# Numerology in Khushal Khan Khattak's Poetry

## د خوشحال بابا په شاعرۍ کښې د ابجد د کاروني څېړنه او شننه

Dr. Badshah Room (Ali Khel Daryab)[1]


## Abstract

Numerology is one of the oldest sciences which include study numerical values of letters/words. Such numeric values have been used, mostly in magic, astronomy and poetry since ancient times. While using it in poetry, a poet brings a word or a compound into his poetry. Although the use of such words or compound are often meaningless but they are sometimes meaningful as well. Numerical values of letters in a word or compound are calculated, which demonstrates date and period of a particular event or birth and death of a person. Khushal Khan has also made good use of numerology in his poetry. His numerological poetry is not simple and is not easily understandable for general readers. Even the readers of literature find it very difficult to understand it. Therefore, for convenience of the readers, this article highlights all verses of Khushal Khan's poetry, wherein he has used numerology.


[1] Associate Professor, University of Malakand

د خـــــــــــــــــوشحال ديوان دكان د جوهري دے
پــكښـــــي واړه لــعـل و در يــاقــوت الــمــاس دي"[i]

د خوشحال بابا ددغه شعرپه حقيقت كه د شاعرانه تعلئ نه پرته په معنوي اړخ نظر واچولے شي نو دا خبره به راډاګې ته شي چې د هغوي ديوان دعلمي او فرهنګي جواهرو نه برجته دے. څه چې نبغ په نبغه د خوشحال باباپه ستره پوهه او فرهنګيالي شخصيت ګواهي وركوي. ددے بره شعر نه قطع نظر كه د كليات خوشحال لړمون په ژور نظر وسنجولے شي نو دا صداقت به تسليم كړے شي چې واقعي دبابا كليات دلامحدودارزښتناكه ملغلرو يو بې كرانه سمندر دے.

خوشحال بابا په خپله شاعرئ كښې د يو شمېر علومو د معلوماتو كارونه كړې ده چې د بابا كلام ته ئې دمعنوي او فكري ښائست سره وربخښلي دي. په دغه علومو كښې يو علم د اعدادو هم دے ، چې د ابجدو علم هم ورته وئيلي شي. دا علم يو ډېرزوړ او لرغونے تاريخ لري . چې د خپل اهميت او افاديت له مخه ډېر ارزښت او قيمت لري.

قومي انګرېزي اردو لغت كښې ئې مفهوم داسي درج كړے دے

"علم الاعداد: د عددونو په حقله كومه عقيده ، صـــوفيانه (عرفاني) يا نوري، د عددونو ترمېنځه د خصوصي پيښو او تعلق په اړه علم ـ د يو كس په ژوند د عددونو د پراسراره اثر عقيده" ـ [ii]

دفرهنګ آصفيه ترمخه

" ابجدين دوه دي ـ يو چې آدم (ع) ترتيب كړے دے او دويم حضرت ادريس (ع) ، نن ورځې هم دغه د حضرت ادريس ابجد جاري دي ـ هغوي دغه ابجد ترتيب كړل اتۀ معني لرونكي كلمې ئې ترې جوړې كړې ـــــ او دابجد ادريس نامه ئې ورته كېښوده ـــ په دي ابجد كښې د عربئ ټول حروف راغلل ـــ كه دغه د يو بل نه بېل شي او په ترتيب شي نو د عربئ پوره پټئ ترې جوړېږي" ـ [iii]

ددي حرفونو اعداد هم مقرر شوي دي، چې ورته "حساب جمل " وائي ـ چې يادول ئي د عربئ، فارسي او اردو د تاريخونو د كلونو د ودانود د جوړښت د د كلونو د نومونو او معمو په راسپړني كښې ډېر لاس كوي ـــ ځيني خلق د بچو نومونه هم دي قاعدې سـره په داسـي ډول ايږدي چې د هغي نه ئې د زوكړې كال راووځي ـ (۳)"

دغه رنګ د ځنو پوهانو د لیک ترمخهٔ اباجاد د یو بادشاه نو ؤ - د څه مخفف چې ابجد او باقي اوؤه کلمې د هغه اوؤه زامنو نامې دي - ځکه نو په صُِراح وغیره کښې ددې وضاحت کړے شوے دے ځینې نور خلق دا وائي چې مرام د یو سړي نوم ؤ د لیکلو دا طریقه د هغه ده او دغه اتهٔ کلمې د هغه د زامنو نومونه دي - په رساله ضوابط عظیم کښې د دې اتهٔ کلمې معنې په لاندینې ډول لیکلے شوي دي -

ابجد یعنې شروع کړے شوه - هوز یعنې مېلاؤ شو، خطي یعنې اشنا شوه، کلمن یعنې متکلم شو، سعفص یعنې د هغه نه زده کړے شوه، قرشت یعنې ترتیب کړے شو، ثخذ یعنې خوندي کړے شو، ضظغ یعنې بشپړ کړے شو"[iv]

ددغه ابجد دقېمتونو په ترڅ کښې دفېروز سنز انسائیکلوپېډیا داسې لیکلي دي:

"دا مجوزه هندسي یا عددي قېمتونه صرف اردو ، فارسی ا و عربی کښې مقرر شوي دي - ټوله پټی په ابجد، هوز، حطي، کلمن، سفعض، قرشت، ثخذ او ضظغ کښې رانغښې شوې ده - - - - - په ترتیب سره د دوي قېمتونه څه په داډول دي -

ابجد: ۱، ۲، ۳، ۴ - هوز:۵، ۶،۷ - خطي : ۸، ۹، ۱۰- کلمن: ۲۰، ۳۰، ۴۰، ۵۰- سعفص: ۶۰، ۷۰، ۸۰، ۹۰- قرشت: ۱۰۰، ۲۰۰، ۳۰۰، ۴۰۰- ثخذ: ۵۰۰، ۶۰۰، ۷۰۰- ضظغ: ۸۰۰، ۹۰۰، ۱۰۰۰-" د حرفونو ددغه قېمتونو نه تاریخي مادې راویستلې شي.او ماشومانو له تاریخي نومونه کېښودلې شي، د حرفونو د عددونو په جمع کولو سره د پیدائش کال رااوځي په ځنو صورتونو کښې د بعضې ټکو نه عددونه ویستلې کیږي یا ورسره جمع کیږي نو دغې نه چې کوم تاریخ رااوځي هغې ته تخریج وئیلې شي" -[v]

د کتاب ""ادبي اصطلاحات"" لیکوال دعددونو دا علم څه په دا ډول راپېژني.

""علم اعداد د عربی حرفونو هغه علم دے څه چې دتاریخ ګوئی، جفر، رمل، هییت او د نجوم په علمونو کښې کارولے شي" -[vi]

هم دغه خبره مولوي سعید احمد دهلوي په نورو ټکو کښې څه په داډول کوي هغه لیکي .

"د حســـاب جمل مطابق د څهٔ خبرې په جملې یا فقرې یا شــــعر کښــــې بیانول چې د عدد راویستلو نه ئې "ماده تاریخ" راووځي" -[vii]

د اریانا دائره المعارف دلیک له رویه:

"د ابجدو توري او په هغو پورې له اړوندو شمېرو (عددونو) څخهٔ په شعر او ادب کښــې د تاریخ د مادې (نېټه لیک) او معمارو په جوړولو کار اخستل کیږي ـــــ په عربي شعر او شـاعرۍ کښــې ئې د لومړي ځل له پاره ځرګ د اشعارو په هغه دیوان کښــې مومو چې

حضرت علي کرم الله وجهه ته منسوب دے ـــــ په دري ژبو شاعرانو کښې د معما لومړۍ بېلګه دمسعود سعد سلمان په دیوان کښې مومو چې ۴۶۹ ق کال ورځځهٔ راووځي او په پښتو شاعرۍ کښې ئې لومړۍ نمونه د ارزاني خویشکي په دیوان کښې مخې ته راځي ، چې ۱۰۱۰ق ورځځهٔ راووځي" ۔ viii

د ارزاني خویشکي نه پس په پښتو شاعرۍ کښې خوشحال بابا په خپل کلام کښې د ابجد پکارونه ځاے په ځاے کړې ده.دلته ددغه کلام دڅېړنې سره سره شننه هم کوو، چې ددغه رنګه شعرونوغوتې وا شي او تاریخي شالیدونه ئې هم رابرسېره شي.

خوشحال بابا وائي:

"د سترګو په جوهرو مې په سي کښې راښکاره شوه
په مشکو په ګوهرو مې په کال راغلے پیري"ix

په دے شعر کښې بابا د " سي " او د " کال " ټکي د ابجد په توګه استعمال کړي دي. د " سي " نه د ابجد په حساب ۷۰ او د " کال " نه ۵۱ راووځي . مطلب خوشحال بابا وائي چې زما په سترګو زړبوډې د اوویا کالو په عمر کښې او په وینتو او غاښونو مې د یو پنځوس کالو په عمر کښې ضعف راغے.

هم دا رنګې خوشحال بابا د دهلي دبادشاهانو تاریخ په یوه قصیده کښې بیان کړے دے ، دغه قصیده بابا د ماسپښین په وخت شروع کړې ده او تر ماښامه ئې بشپړه کړې ده. دیادې قصیدې دوئیلو تاریخ ئې داسې رقم کړے دے.

"که ددي وئیلو کال غواړې له ما نه
په حساب کښې واوره کال د قرشت ؤ"x

دلته د قرشت نه ۱۰۵۵ هـــــ کال جوړېږي .چې ددغه قصیدې د لیک تاریخ ترې جوتېږي. دا لاندې شعر ئې هم ولولئ ، بابا وائي

"زهٔ چې د غعد په کال بندي د اورنګزیب شوم
کور او خپل خانه مې په کښې ډیره وه له دمه"xi

"غعد" نه د ابجد په حساب کال ۱۰۷۴ هجري راځي۔ دې کال کښې د ستر خوشحال د ګرفتارۍ پېښه په وړاندې راغلې وه۔ "په ۱۰۷۴ هجري کښې سید امیر خوافي المخاطب به سید امیر خان چې د کابل

صوبه دار وۀ. د بادشاه سره اوليدل. او ورته ئې اووې چې څو پورې چې بعض زمينداران ګرفتار او بندي شوي نۀ وي، نو تر هغه وخته پورې د راهدارۍ د باج د ممانعت د احکامو نفاذ نۀ شي کېدے. . . . . خبره دا وه چې دا چل سيد امير خان خوافي د خپل نائب ميرزا عبدالرحيم (چې پېښور کښې وۀ) او د خوشحال خان په مينځ کښې د خفګان او د خوشحال خان ترونو بهادر خان او فېروز خان سره د سازش په سبب جوړ کړے وۀ. ميرزا عبدالرحيم سېد امير خان خوافي ته وئيلي وۀ. چې تر څو پورې تۀ يو څو لوے لوے سړي بنديان نۀ کړې. تر هغې ستا د صوبه دارۍ نقش نۀ شي کښېناستے. او د خوشحال خان ترونو ورسره پنځوس زره روپۍ کړې وې. سيد امير خان بادشاه ته مبهمه او مجمله وېنا کړې وه . . . . . او چې بادشاه ورته د دې اجازت اوکړو. نو پېښور ته راغے. او خوشحال خان ئې د صلاح مشورې په بهانه رااوغوښتو. . . . اخر د صوبه دار پيش کار د ګجرات شيخ خوشحال خان ته جواب اوکړو. چې ما له مشورې د پاره راشه چې خوشحال خان ورغے نو دې ئې ګرفتار کړو. او پنج سيرۍ بېړۍ ورته په پښو کړې. د خوشحال ترونو د صوبدار نه خلعتونه واخستل ـ [xii] دهلي ته د بوتللو په وخت يو ځل بيا د "غعد" تذکره کوي

"دا بيان مې د غعد په کال وئيلے
په شعبان چې د لاهور په سيند عبور کړم"[xiii]

د قيد وبند په اوان چې خوشحال بابا خپل شهره افاق کتاب دستار نامه وليکلو نوددغے کتاب دليکلو دکال تذکره ئې په لاندينۍ قطعه کښې د ابجد په صورت کښې داسې بيان کړې ده:

"دا کتاب چې په پښتو چې ما انشاء کړه
پخوا نۀ وے انشاء کړے پښتانۀ
که تاريخ ئې د انشاء له ما نه غواړې
وايم دا "بس دے محنت د بېلتانۀ"[xiv]

دې قطعه کښې" دابس دے محنت د بيلتانه نه کال (۱۰۷۶هـ) راځي .

د خپلې ګرفتارۍ ، قېد وبند او بيا د خلاصۍ تاريخ ته داسې اشاره کوي.

"په وسط د ځلورمې خور په بند شوم
په رجب د بل کال وختم په ګړې
د ذي العقدې په پنځم له ګړې کوز شوم
دوه کالونه نه پنځه مياشتې شي د تړې
بسه تاريخ د استخلاص رالره راغے

"لاړ پـــه کـــوز د ســـېد ميـــر د مـــور لپـــړي"[xv]

د دي اخري مصرعي نه د ابجد په حساب کال ۱۰۷۶ هجري راځي۔ کوم چي د قېدو بند نه د خوشحال خان د خلاصي زمانه ده۔

په لاندينو شعرونو کښي د " غفا " د کال ذکر کوي وائي.

"د غفـــا پـــه بوکـــه پرېـــوتي پـــه غرونـــو
تـــــر کابلـــــه تـــــر اټکـــــه ســـــپني واوري
شـــکر زر بـــه درســـت جهـــان ســـره ګلـــزار شـــي
د بـــد کـــال پـــه ســـر خـــو بيـــا شـــوې تـــورې خـــاورې"[xvi]

او دا شعر ئي هم ولولئ.

"د غفـــا د کـــال بهـــار ګـــوره خوشـــحاله
چـــي د مـــړو بـــه ئـــي هـــوا وشـــي هـــوس تـــه"[xvii]

دغسي دا شعر ئي هم د غفا ټکے لري . وائي

"د شـــوال وروســـتۍ ورځ کـــال د غفـــا دے
مـــا چـــي دا شـــپته بېتونـــه کـــړل تحريـــر"[xviii]

د "غفا" اشاره د ابجد په حساب کال ۱۰۸۱ هجري ته ده۔ وړومبي شعر او دويمي قطعي کښي د دغه کال د سپرلي ، د ښېرازۍ او پخپل کور د غلي د پوره کېدو او ارزانۍ پله اشاره شوې ده۔ دغه شان دې بل شعر کښي هم د غفا لفظ کال ۱۰۸۱ هجري ته اشاره ده۔ دا شعر د خوشحال بابا د يوې قصېدې نه اخستے شوے دے۔ دغه قصيده کښي که هغه يو پله د مغلو نه سر ټکوي نو بل پله د خپل اولاد نه او په خصوصي توګه د بهرام خان نه ګيله مند دے۔ او په دې لاندې قطعه کښي د غفا د کال دهغې واقعي يادونه کوي کومه چي خوشحال بابا ته د ۱۰۸۰ء او ۱۰۸۱ هجري تر مينځه راپېښه شوې وه په دغه آوان خوشحال بابا د دست په بيمارۍ اخته شوے وۀ او پوره دوه کاله دغې بيمارۍ زېلے وۀ آخر د غفا په کال په ذوالحجه کښي روغ شۀ محترم دوست محمد خان کامل د خوشحال بابا د دې ناروغتيا په ترڅ کښي ليکي چي:

**"۱۰۸۰ هجري اور ۱۰۸۱ هجري کے دوران مىں خوشحال خان اس حال**

کے مرض میں مبتلا رہا۔ اواخر سال ۱۰۸۱ ھجری میں اس سے شفایاب ہوا'' ۱۹

"کـــــه دعــــا ده کـــــه توبــــــه ده کـــــه دارو
وخوشــــــحال ختـــک تـــــه خـــداے ورکـــړه شـــفا
پــــه دوه کالـــــه د اســـهال پــــه رنـــځ اختـــه وۀ
تـــــرې خلاصــــــے پـــــه ذوالحجـــــه وو د غفــــا"xix

په دې اشعارو کښې د " غفج " تکے استعمال شوے دے.

"کـــــال د غفـــــج وۀ پـــــه خیبــــــر کښـــــې هـــــورې
مغلـــــــې بنـــــد شـــــوې هـــــم ګُنـــــډې بـــــورې
مهمنـــــــــد شـــــــــینواري څـــــــــو افریـــــــــدي وو
واړو وهلـــــــــــې د یـــــــــــادو تـــــــــــورې"
دویـــــم د محـــــرم ورځ د شـــــنبه کـــــال د "غفـــــج"
نـــــۀ غشـــــې وو نـــــۀ تُـــــورې چـــــې مغلـــــو وکـــــړ بـــــج
شـــــینواریو افریـــــدیو د ډکـــــې خـــــوارو مهمنـــــدو
روپـــــۍ ئـــــې پـــــه خـــــر وار یـــــوړې مهـــــران واره پـــــه چـــــج"xx

دې قطعاتوکښې د غفج نه مراد ۱۰۸۳ هجري کال دے۔ چې د ابجد په حساب ترې دغه کال راوځي۔ په دغه اوان د خیبرد جنګ پېښه مخې ته راغلې وه، دے جنګ کښې د مغلي صوبه دار محمد آمین خان لوے لښکر ماتې خوړلے وه. او د اېمل خان ، دریا خان لښکر ګټه ترلاسه کړې وه. د څه په نتیجه کښې چې د شنواریو، افریدیو او مهمندو لاسو ته د محمد امین خان پرېښې خزانه راغلې وه۔ او په یوه ورځ کښې دغه غریب اولس د محمد آمین خان هومره دولتمند شول۔ او محمد امین خان د هغوي پشان مفلس شۀ ، دغه شان د مغلي فوځ نه څه ښځې بندې کړې شوې ،ډېرې ګُنډې بورې شوې او د افریدو او شینوارو ځوانانو یادګار مرانه ښکاره کړه.

لاندې ورکړې شوې رباعي کښې خوشحال بابا د " رحمت تم " تکي راوړي دي ، ددې نه ۱۰۸۸ ھ مراد دے. خوشحال بابا وائي

"ســـــږ کـــــال چـــــې د "رحـــمـــت تـــم" دے
بـــاران پـــه هـــر چـــرتـــه پـــه غـــرۀ پـــه ســـم دے

پس له شپږ میاشتو په چنګاښ شروع شۀ
په هره ورځې تر نیم ضیغم دے"[xxi]

خوشحال بابا دهغې سوکړې ذکر کوي. کومه چې په کال "رحمت تم" یعني ۱۰۸۸ هجري کښې راغلې وه. دا سوکړه پوره شپږ اووه مایشتې جاري وه. باران نۀ کېدو په هر ځاے د ګیاه او غلې بیاج وۀ. هر کله چې د چنګاښ یعني د سرطان (۲۲جون نه ۲۲ جولائي) د میاشتې نه سوکړه ماته شوه. او باران شروع شۀ. نو د زمري (۲۳ جولائي نه ۲۲ اګست) د میاشتې تر نیمائي یعني ۶ اګست پورې هره ورځ باران ښه په شړق او ورېد. او هر ځاے په خلقو او ښاروو کښې ژوند غزونې اوکړې. ولې یو کال پس د نوروز په دولمسه کال غفط یعني ۱۰۸۹ هجري کښې بیا سوکړه راغله. باران نۀ کېدو فصلونه تباه شول. او د غلې ګراني شوه. اولس بې کچه اوتر وۀ. خو بیا د خداے رحمت په جوش کښې راغے. بارانونه را مات شول. او په خلقو کښې یو ځل بیا روح راغے، او باران وشو. دغسې دې قطعه کښې هم بابا ددغې سختې سوکړې حال بیانوي چې هرڅه تباه حال وو ، خو په غفط یعني کال ۱۰۸۹ هـ کښې لوے باران وشو او ددغه بد حالت نه خلق اووتل -

د نوروز په دولسم — میاشت صفر کال د غفط وه
غله ګرانه کښت زبون شو — په عالم نازل سخط وه
لوے باران وشو په خلقو — د وګړي وار غلط وه"[xxii]

دے شعرونو کښې د " غفو " ټکے دعلم الاعداد په ښځر کارول شوے دے. د غفو نه ۱۰۸۶ هـ کال راوځي.

په دریمه خور کښې ومړ کال غفو ؤ
شپږ ویشت کاله ئي د عمر وو برنا ؤ"[xxiii]

"دهجرت د کال غفو وه په حساب کښې
په غره واورې وریدلې نیساني وه"[xxiv]

وړومبي شعر کښې خوشحال بابا د خپل ځواني مرګي زوي نظام خان ذکر کوي او په دغه بل شعرکښې د ګنبت د جنګ تذکره ده . دے جنګ کښې خټکو ماتې خوړلې وه. او اووه شلې ځوانان ئې پکښې له تيغه تېر شوي وو. دغه واقعې په کال ۱۰۸۶ هـ کښې راپېښې شوې وې.

په دے شعر کښې خوشحال بابا د " فضل نامې " د تحرير کال په ابجد کښې رانغښتے دے. وائې:

"دا سږ کال چې د غفط دے
يو کتاب چې په نمط دے"xxv

د غفط نه ۱۰۸۹ هـ جوړېږي. مطلب دا چې خوشحال بابا د اسلامي فقهي او مسائيلو کتاب فضل نامه په دغه ذکر شوي کال کښې تصنيف کړے دے.

دے بل شعر کښې ئې د غصج او غصد ټکي استعمال کړي دي

"دا سږ کال چې د غصج دے چې غصد شي
اميدوار اوسه له بخته له اقباله"xxvi

غصج کال ۱۰۹۳ هجري او غصد ۱۰۹۴هجري ته اشارې دي. دې دواړو کالونو کښې خوشحال بابا د بخت او اقبال د بېدارېدو په هيله دے. هم دغه رنګ مخې کال ۱۰۹۵ هجري کښې هم د خداے پاک نه دعا غواړي. چې هغۀ ته دومره مهلت ورکړي. چې کاره کارونه سم کړي. او خپله غصه په دښمن سړه کړي.

"نوې مياشت ده محرم "غصه" ئې کال دے
په غليم مې غصه وريږه دا کال
خدايه هومره مهلت ورکړے په دنيا کښې
چې کاره کارونه سم کاندې خوشحال"xxvii

"غصه" د ابجد په حساب کال ۱۰۹۵ هجري راځي ـ هم داشان په لاندينۍ رباعي کښې ئې عين ، ف، او غفد د ابجد په توګه راځاے کړي دي.

"تر عين تېر شوم داهسې زۀ وينم
احول يو دوه وينې زۀ يو اووۀ وينم
تر "ف" که درشم غفد سږ کال دے

اووه بـه شـــل وينم دا كـار زه بنــــهٔ وينم"xxviii

په دغه لوړو شعرونو كښي " عين" ، " ف" او " غفد " ټكي راوړل شوي دي . تر كومې چې د عين او ف تعلق دے نو ددغه نه بالترتيب ۷۰ او ۸۰ كاله راځي ، خوشحال بابا وائي چې د زه د اوويا نه واوړېدم اوس ماته يو ښيز اووه ښكاري حالانكي چغرته يو ښيز دوه ليدې شي. دغه شان چې اتيا كالو ته ورسم نو بيا به مې دا حال وي چې اووه به راته شل ښكاريږي . خو د غفد ټكے په يقيني ډول غلط درج شوے دے. په دې چې د غفد نه ۱۰۸۴ هــــ راوځي او خوشحال بابا دلته پخپله وائي چې زه د اوويا نه تېر شوم او چې اتيا ته رسېږم نو بيا به مې دغه حال وي. په كښي د بابا عمر دوه شپېته كاله جوړيږي. زه باور لرم چې دغه ټكے غفد نه دے بلكې غصد دے، د غصد نه ۱۰۹۴ هـ راځي او په دغه اوان د بابا عمر دوه اويا كاله ۱۰۹۴ ـ ۱۰۲۲ = ۷۲ راځي . ځكه خو وائي چې د اووياؤ نه تېر شوم.

دې رباعي كښي هم د غصه ټكے پكار راويستے دے.

"شـــــپـه د بـرات وه يـو خـوب مــې ولــيـدهٔ
كـال ئـې غـصـــه دے هر ګـور مې ښـــهٔ لـيـدهٔ
دوه تـوري مـاتـې شـــوې يـوه مـې روغـه شـــوه
دويـم صـــمـصـــام مـي پـه رغـېـدهٔ لـيـدهٔ"xxix

دې رباعي كښـي كه يو اړخ ته خوشـحال بابا د ابجد " غصــه " ټكے پكار راويسـتے دے نو بل اړخ ته ئې د خپل يو ر ېښـتوني خوب حال هم راښودے دے چې تعبير ئې اوس بيخي رادوښار او اوښار دے. دغصه ټكي نه كال ۱۰۹۵ هـ رابرسېره كېږي او په دغه خوب كښي دوه تورو ماتېدونه د ايمل خان مومند او دريا خان افريدي د مړيني تعبير مخې ته راځي ، ددې نه علاوه د دويم صمصام دغه ټكے زما په نزد غلط درج شوے دے، دا دريم صمصام دے، چې تعبير ئې د لوے احمد شاه ابدالي په صورت كښي ډېر وروسته پښتون قام بيامونده دے.

خوشحال بابا د غواص د كال ذكر په خپل كلام كښي دارنګ كوي.

"ســـــږ كـــال چـــې د غـــواص دے
پـــه هـــر لـــوري دې تـــبـــژن ډېـــر "xxx

د غواص نه ۱۰۹۷ هـــــ كال رابرسېرېږي ، دغه شعـر د بابا د زوي د بخت ناك د مړيني كال راښائي.

هم دا شان:

"د غــــــــــــــواص د کــــــــــــال وبـــــــــــا
خــــــــدا ے ئــــــي مــــــــۀ راولـــــــــه بيـــــــا"xxxi

دې شعر کښې د غواص د کال يعنې ۱۰۹۷ هجرې د وبا د پېښو تلميح دے۔ دې وبا کښې د خوشحال خان زوے بخت ناک او د هغۀ مور مړۀ شو۔ بيا پسې د خوشحال نمسے او د سعادت خان زوے سرفراز چې د قرآن پاک حافظ وۀ۔ د ليونې سپي د چيچلو نه په حق اورسېد۔ وئيلے شي چې دا وبا د دکنه تر کابله پورې خوره شوې وه۔ او په لکهونو انسانان ئې د مرګ ښکار کړي وو۔

"کـــال حـــصـــغ شـــۀ وبـــا لاړه
هـــم عـــســـرت کـــړه راتـــه شـــا"xxxii

د حصغ کال نه ۱۰۹۸ هجرې د ابجد په حساب جوړېږي۔ د پوره يو کال نه پس "وبا" ختمه شوه۔ او د خوشحال خان په قول غمونه د هغۀ نه په شا شول۔ ولې واقعات په حقيقت کښې داسې نۀ دي۔ په دې چې هم دغه کال د بهرام خان زوے او د خوشحال نمسے معظم خان مړ شو۔

"خـــــه د بـــــدو ژغ وۀ ماښـــــــام راپانـــــــدې وشـــــۀ
تنـــدرر وۀ يـــا تـــوپ وۀ پـــرې مـــې تخنـــې تخنـــې زړۀ شـــه
ښــــه تـــــاريخ ئـــــې راغـــــے "بـــــې بدلــــه معظــــم"
خوشـــحال د دۀ نيکـــه دے د نيکـــۀ ئـــې داغ پـــه زړۀ شـــۀ"xxxiii

"بې بَدَلَ معظم" نه ۱۰۹۸ هجرې کال جوړېږي۔ چې د معظم خان د مرګ نېټې پله اشاره کوي۔ هم دغه کال د خوشحال خان زوے طاهر خان د بهرام خان په لمسه د مهمنديو درمندونو ته اور لګوي۔ او په دغه دوران کښې پرې مهمندې حمله کوي۔ او طاهر خان د يو غشي لګېدو نه مړ کېږي۔ خوشحال بابا د طاهر خان په مرګ د يو مرثيې نه علاوه پخپل کلام کښې د طاهر خان ځوانې مرګې مړينې ته اشارې کړې دي۔

"طــــاهر ومــــړ پشــــاب کښــــې" دا تــــاريخ دے
چــــې بــــه کــــال د دۀ د مــــرګ تــــر رابرســــېر شــــې"xxxiv

طاهر ومړ پشباب کښې" دې نه د ابجد په حساب ۱۰۹۸ هجري جوړېږي چې اشاره کوي د طاهر خان د ځواني مرګ پله.

حواله جات:(References)

---

i خټک، خوشحال خان، کليات خوشحال خان خټک، اداره اشاعت سرحد پېښور ، ۱۹۶۰ء ، ۹۱۷ مخ

ii قومي انګرېزي اردو لغت، مقتدره قومي زبان، اسلام اباد، ۲۰۰۸ء، مخ ۱۰۹۸

iii دهلوي، سعيد احمد مولوي، فرهنګ آصيفيه، (الف تاثر)، اردو سائينس بورډ ، لاهور، ۱۹۸۷ء، ج اول ودوم، مخ ۸۴

iv هم دغه فرهنګ ، ۸۵ مخ

v اردو انسائيکلوپيډيا ، فېروز سنز لاهور، س ن، دريم ايډيشن ، ۹۲ مخ

vi انور جمال، پروفېسر ، ادبي اصطلاحات، نيشنل بک فاونډيشن ۲۰۱۲ء، مخ ۱۳۴

vii دهلوي ، سيد احمد مولوي ، فرهنګ آصفيه ، اردو سائنس بورډ ، لاهور ۱۹۸۷ء ، ج اول ، ۵۸۴ مخ

viii اريانا دائره المعارف (دويم دور) د افغانستان د علومو اکاډمي- کابل ۱۳۸۶ش، مخونه ۱۰۴، ۱۰۵

ix کليات خوشحال خان خټک ، مرتبه دوست محمد خان کامل ، ۳۸۸ مخ

x هم دغه ، ۵۹۷ مخ

xi هم دغه کتاب ، ۵۶۸ مخ

xii هم دغه کتاب مقدمه ، ف، ص مخونه

xiii هم دغه کتاب ، ۵۶۳ مخ

xiv خټک ، خوشحال خان ، دستارنامه ،مرتبه پردل خټک ، پښتو اکيډيمي پېښور پوهنتون ، ۱۹۹۱، ۲۴۰ مخ

xv خټک، افضل خان، تاريخ مرصع، يونيورسټي بک ايجنسي پېښور، س ن ، ۲۹۲ مخ

xvi د خوشحال خان خټک کليات ، ۹۱۸ مخ

xvii هم دغه کتاب ، ۴۹ مخ

xviii هم دغه کتاب ۵۳۳ مخ

xix مومند ، دوست محمد خان ، کامل ، خوشحال خان ختک (سوانح حیات و اثار ) ، اداره اشاعت سرحد پشاور، ۱۹۲۲ ۱۲۴ مخ

xx کلیات خوشحال خان ختک ، مرتبه دوست محمد خان کامل ۹۱۸ مخ

xxi هم دغه کتاب ، ۶۶۳ مخ

xxii هم دغه کتاب ، ۹۲۲ مخ

xxiii هم دغه کتاب، ۷۸۲ مخ

xxiv هم دغه کتاب ، ۹۰۴ مخ

xxv هم دغه کتاب ، ۸۶۴ مخ

xxvi هم دغه کتاب ، ۸۵۹ مخ

xxvii ختک ، خوشحال خان ، فضل نامه ، پیش کش د محمد عبدالشکور ، اداره اشاعت سرحد پیبنور ، ۱۹۵۲ ء ، ۸ مخ

xxviii کلیات خوشحال خان ختک ، ۵۵۴ مخ

xxix هم دغه کتاب ، ۵۶۴ مخ

xxx هم دغه کتاب ، ۶۷۸ مخ

xxxi هم دغه کتاب ، ۷۰۳ مخ

xxxii هم دغه کتاب ، ۸۳۴ مخ

xxxiii هم دغه کتاب ۵۰۶, مخ

xxxiv هم دغه کتاب ۵۰۷ مخ